۱۴

# قضاء

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې درې میاشتنۍ مجله




شرعي | قضائي | حقوقي

پنځم کال، څوارلسمه گڼه ( محرم الحرام، صفرالمظفر او ربیع الأول) ۱۴۴۸ هـ ق/ ۱۴۰۵ هـ ش

د تأسیس کال ۱۳۰۹ هـ ش

بسم الله الرحمن الرحيم

# د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې درې میاشتنۍ مجله

پنځم کال
خوارلسمه ګڼه ( محرم الحرام، صفرالمظفر او ربیع الأول) ۱۴۴۸ هـ ق/ ۱۴۰۵ هـ ش
د تأسیس کال ۱۳۰۹ هـ ش

د امتیاز څښتن: ستره محکمه    خپروونکی: د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

**کتنپلاوی**

شیخ محمد قاسم «راسخ»
مفتي عبدالرشید «سعید»
مفتي عبدالرحمن«عزیزي»
مولوي حمدالله«محمدي»
حافظ مولوي عبدالولي «محمود»

**مسئول مدیر: مولوي عبدالرحیم «راشد»**

پته: د عامې روغتیا څلور لارې، نهمه ناحیه، ستره محکمه، کابل - افغانستان
د اړیکې شمېرې: ۲۳۰۰۳۶۱_۲۳۰۲۲۶۳
برېښنالیک: publications.sc1443@gmail.com
ویب سایټ:www.supreme court.gov.af



# لړلیک


١ سرمقاله — اداره

٣ د قضاء تاریخ له نبوي دورې څخه تر اسلامي امارته — مولوي عبدالرحیم «راشد» حقاني

٦ د حنفي مذهب اته (٨) ستري څانګړتیاوې — مفتي عزت الله «درویش»

١١ د قضاء تعریف او حکم — مفتي رحمن الله «القاسمي»

١٥ د شاهدانو د تزکیې د طرزالعمل کتاب — اداره

٢٨ د سترې محکمې د کلتوري مرکزونو ... — اداره

٣٢ د اسلامي عدالت ځانګړې خپرونه — اداره

٣٥ ګزارش اجرآت قضائی ستره محکمه — اداره

٤٤ د سترې محکمې اداري راپور — اداره

بسم الله الرحمن الرحیم

## سرمقاله

# شرعي محاکم د حقوقو ترلاسه کولو او الهي احکامو د تطبیق مرجع!

د خلکو د قضائي اړتیاوو د پوره کولو په موخه د افغانستان اسلامي امارت سترې محکمې د تشکیل پراختیا عدالت د ټولنې اساسي اړتیا او د خلکو د دعوو او ستونزو پر وخت او اصولي حل د یوه قوي او سالم قضائي نظام له مهمو مسئولیتونو څخه ګڼل کېږي.

خلک هغه مهال کولای شي د خپلو حقوقي او شرعي حقونو د ترلاسه کولو او تأمین لپاره په ډاډه زړه محاکمو ته مراجعه وکړي، چې د قضائي خدمتونو بهیر شفاف، منظم، د هر چا د لاسرسي وړ او له غیر ضروري ځنډ څخه پاک وي؛ له همدې امله، د محاکمو د تشکیل او کاري ظرفیت پیاوړتیا یوازې یوه اداري موضوع نه؛ بلکې د خلکو د قضائي اړتیاوو د پوره کولو له مهمو لارو څخه ده.

د سترې محکمې له مهمو مسئولیتونو څخه یو هم دا دی، چې د هېوادوالو د قضائي اړتیاوو او د خلکو د مراجعې کچې ته په کتو، د محاکمو تشکیل او کاري ظرفیت په دوامدار ډول وڅېړي او د اړتیا په صورت کې یې پراخ او ډېر کړي.

د افغانستان اسلامي امارت سترې محکمې محترم عالي مقام هم په همدې موخه، په تېرو کلونو کې د محاکمو د تشکیل د پراختیا، د اړوندو بستونو د زیاتوالي او د قضائي او اداري ظرفیت د پیاوړتیا په برخه کې د پام وړ اقدامات ترسره کړي دي.

د قضائي ارګان د تشکیل د پراختیا اساسي موخه یوازې د محاکمو او بستونو زیاتول نه دي؛ بلکې اصلي هدف یې دا دی، چې د خلکو دوسیې او موضوعات په مناسب وخت، د نافذه اصولو او مقرراتو مطابق او د لازم دقت په مراعاتولو سره حل او فصل شي.

کله چې د یوې محکمې د مراجعینو او قضیو شمېر د موجود قضائي او اداري ظرفیت له اندازې زیات شي، طبیعي ده، چې د قضیو د څېړنې بهیر له زیات کاري فشار سره مخ کېږي؛ له همدې امله، د اړتیا مطابق د تشکیل پراختیا کولای شي د دغه کاري فشار په تنظیم، د قضیو په منظمې څېړنې او د مراجعینو د انتظار د مودې په کمولو کې مهم رول ولري.

د افغانستان اسلامي امارت سترې محکمې هم په تېرو شاوخوا پنځو کلونو کې هڅه کړې، چې د محاکمو تشکیل د خلکو د اړتیاوو او موجود کاري وضعیت له مخې تنظیم او پراخ کړي؛ د بېلګې په توګه د سترې محکمې د ۱۴۴۷ هـ ق کال یادونه کوو، چې د سترې محکمې عالي مقام د لزوم دید له مخې، د تېرو کلونو په پرتله د سترې محکمې په قضائي او اداري تشکیلاتو کې مهم بدلونونه رامنځته شوي دي.

په ۱۴۴۷هجري قمري کال کې د سترې محکمې ټول تشکیل (۷۷۸۷) ملکي قضائي او اداري بستونه وو، چې له دې ډلې (۳۰۹۷) قضائي او (۴۶۹۰) یې اداري او خدماتي بستونه دي.

په قضائي برخه کې هېوادوالو ته د غوره او پر وخت خدماتو په موخه د سترې محکمې په تشکیل کې څلور (۴) معاونیتونه (دوه قضائي، چې یو په مرکز او بل په جنوب لوېدیځ زون کې موجود دی، یو نظامي معاونیت او یو اداري معاونیت) رامنځته شوي دي. دغه راز ستره محکمه دوه د تمیز عالي ریاستونه (مرکزي تمیز عالي ریاست او د جنوب لوېدیځ زون تمیز عالي ریاست) لري، چې هر یو یې پر پنځو (۵) دېوانونو مشتمل دی، په دې سربېره ستره محکمه (۲۶) قضائي او اداري ریاستونه هم لري.

په يادو معاونيتونو، تميز عالي رياستونو او دېوانونو سربېره ستره محكمه په ۳۴ ولايتونو کې ملکي مرافعه محاکم، چې هره يوه پر پنځو دېوانونو مشتمله ده، ۳۴ ښاري ملکي ابتدائيه محاکم، چې دا هم هره يوه پر څلورو يا پنځو دېوانونو مشتمله ده او په (۴۲۲) ولسواليو کې ابتدائيه ملکي محاکم لري.

دغه راز په ۳۴ ولايتونو کې د تېرې ادارې د ناتطبيق شويو فيصلو د ارزونې او څېړنې اختصاصي محکمې، د ځمکو د غصب د مخنيوي څلور (۴) ځانګړې محکمې، په کابل ولايت کې د نشه‌يي توکو پر وړاندې د مبارزې ابتدائيه محکمه او د حکومتي کارکوونکو د تقاعد ځانګړې محکمه هم فعاليت کوي.

همدارنګه په ۱۴۴۷هـ ق کال کې د عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه‌الله تعالی) په حکم د اداري فساد موضوعاتو ته د رسېدنې محکمه او د غايبو اشخاصو او ساعين بالفساد د املاکو د بررسۍ نظامي محکمه جوړه شوې ده.

سترې محکمې د تشکيل د پراختيا ترڅنګ، د محاکمو د فزيکي او کاري چاپېريال برخه هم مهمه ګڼلې او د محاکمو لپاره د مناسب ځای، د مراجعينو لپاره د لازمو اسانتياوو رامنځته کولو، د ښځينه او نارينه مراجعينو لپاره د مناسبو انتظار ځايونو، د قضائي او اداري کارکوونکو لپاره د مناسبو کاري امکاناتو د برابرولو په برخه کې يې نه سترې کېدونکي اقدامات ترسره کړي دي.

دغه راز يې د قضائي خدمتونو د کيفيت د لوړولو لپاره د تشکيل پر زياتوالي سربېره د محاکمو د قضائي منسوبينو د مسلکي ظرفيت لوړونې، د اجراآتو د کيفيت ارزونې، د چارو څارنې او د اصولو د مراعاتولو لپاره مسلسلې هڅې کړې دي.

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې يادو هڅو او اقداماتو په اړه د تفصيل او تر تاسو د رسولو په موخه مو د سترې محکمې د بهرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو رياست په دغه چاپي خپرونه «د قضاء مجلې ۱۴مه ګڼه» کې د قضائي، حقوقي او شرعي موضوعاتو اړوند مقالو سربېره د سترې محکمې د ۱۴۴۷هـ‌ق کال د څلورمې ربعې د قضائي او اداري کړنو خلاصه راپور هم ځای پر ځای کړی دی.

هيله لرو، چې د قضاء مجلې دغه ګڼه له مطالعې وروسته په خوندي ځای کې وساتئ؛ ځکه په مجله کې د قرآنکريم مبارک آیاتونه، د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) مبارک احاديث او نور مطالب موجود دي.

**په درنښت**



# د قضاء تاریخ له نبوي دورې څخه تر اسلامي امارته

## د راشده خلافـت په دوره کې قضاء

ليکوال: قاضي القضات محترم شيخ عبدالحکيم «حقاني»[1] ژباړن: مولوي عبدالرحيم «راشد» حقاني [2]

څوارلسمه برخه

**د عثمان بن عفان (رضي الله عنه) په دوره کې قاضيان:**

له حضرت علي (رضي الله عنه) څخه وروسته د حضرت عثمان (رضي الله عنه) دورې پورې ځينې قاضيان د نورو سيمو د واليانو په شان پر خپلو دندو پاتې شول.

حضرت عثمان (رضي الله عنه) بيا ځينې قاضيان او يو شمېر داسې واليان هم وټاکل، چې د ولايت تر څنګ يې د قضاوت چارې هم ترسره کولې.

کله چې حضرت عثمان (رضي الله عنه) خلافت ته ورسېد، په هغه وخت کې د مدينې منورې د قضاء چارې حضرت علي بن ابي طالب، زيد بن ثابت او سائب بن يزيد (رضي الله عنهم) پر غاړه وې، ځينې څېړونکي وايي، چې حضرت عثمان (رضي الله عنه) دغه قاضيانو ته د حضرت عمر (رضي الله عنه) د خلافت په څېر بشپړ واک نه و ورکړی، چې په هره قضيه کې په خپلواکه توګه وروستۍ پرېکړه وکړي؛ بلکې خپله به يې د خلکو ترمنځ شخړې او دعوې څېړلې او د پرېکړې په اړه به يې له دغه قاضيانو او نورو صحابه کرامو (رضي الله عنهم) سره مشوره کوله.

که به د هغوی مشورې د حضرت عثمان (رضي الله عنه) له نظر سره موافقې وې، هماغه به يې پرېکړه ګڼله او عملي کوله؛ خو که به د هغوی نظر د ده له نظر سره برابر نه و، بيا به يې قضيه کې له سره غور او فکر کاوه. له دې خبرې څخه ځينو داسې پايله اخيستې، چې ګواکې حضرت عثمان (رضي الله عنه) د مدينې منورې دغه درې قاضيان له رسمي قضاوت څخه ګوښه کړي وو او يوازې يې د نورو صحابه کرامو (رضي الله عنهم) ترڅنګ خپل مشاورين ګرځولي وو؛ خو ځينې نور علماء او څېړونکي بيا وايي، چې د دغه قاضيانو د ګوښه کېدو په اړه کوم څرګند او صريح روايت نه دی ثابت شوی، له موجوده روايتونو څخه تر ټولو زيات دا څرګندېږي، چې حضرت عثمان (رضي الله عنه) د حضرت عمر (رضي الله عنه) ټاکلي قاضيان په مدينه منوره کې پر خپلو دندو پرېښودل؛ خو د ډېرو مهمو او پېچلو قضيو د څېړلو او پرېکړې چارې يې خپله پر غاړه اخيستې وې او په هغو کې يې له قاضيانو او نورو صحابه کرامو (رضي الله عنهم) سره مشوره کوله.

**د اختلاف سرچينه**

د دغه اختلاف اصلي لامل هغه روايتونه دي، چې په دې اړه نقل شوي او ظاهرًا يو له بل سره توپير لري.

بيهقي په خپل «سنن» کې او وکيع په «اخبار القضاة» کې چې د وکيع د روايت الفاظ دي له عمر بن عثمان بن عبدالرحمن بن سعيد څخه روايت کوي، هغه وايي:

زما نيکه راته وويل:



---

۱- د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې رئيس

۲- د سترې محکمې د بهرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو رئيس

«ما حضرت عثمان (ﷺ) په مسجد کې ولید، کله به چې دوه دعوه کوونکي ورته راغلل، یوه ته به یې وویل: علي راوغواړه او بل ته به یې وویل: طلحه بن عبیدالله، زبیر او عبدالرحمن راوغواړه. کله به چې هغوی راغلل او کښېناستل، حضرت عثمان (ﷺ) به دعوه کوونکو ته وویل: خپله دعوه بیان کړئ او خبرې وکړئ.

کله چې به هغوی خپله خبره وکړه، حضرت عثمان (ﷺ) به هغو صحابه کرامو ته مخ ور واړاوه او ویل به یې: خپل نظر راته ووایاست.

که به د هغوی نظر د حضرت عثمان (ﷺ) له نظر سره موافق و، هماغه به یې پرېکړه کړه او پر دواړو به یې عملي کړه او که به یې نظر ورسره موافق نه و؛ نو حضرت عثمان (ﷺ) به بیا په قضیه کې له سره غور کاوه، وروسته به هغوی په خیر او سلامتیا سره تلل.

تر هغه ځایه چې معلومه ده، حضرت عثمان (ﷺ) تر خپل شهادت پورې، چې د ۳۵م هجري کال د ذوالحجې په میاشت کې وشو، په مدینه منوره کې کوم ځانګړی قاضي نه و ټاکلی.»

امام طبري په خپل «تاریخ» کې د حضرت عثمان (ﷺ) د خلافت د چارو د بیانولو پر مهال وایي: «په هغه وخت کې د عثمان (ﷺ) د قضاء چارې د زید بن ثابت (ﷺ) پر غاړه وې.»

له دې روایت څخه څرګندیږي، چې حضرت عثمان (ﷺ) حضرت زید بن ثابت (ﷺ) د قضاء پر دنده پرېښی و او طبعي ده، چې د قاضي پر دنده پاتې کېدل خپله د خلکو ترمنځ د شخړو د فیصله کولو اجازه هم رانغاړي.

څرنګه چې د دواړو روایتونو ترمنځ د توافق او جمع امکان شته؛ نو غوره داده، چې دواړه روایتونه ومنل شي او بل پرېښودل شي. د دواړو روایتونو ترمنځ داسې توافق رامنځته کېدای شي، چې حضرت عثمان (ﷺ) د مدینې منورې قاضیان پر خپلو دندو پرېښي وو، خو د خلکو د ځینو شخړو او قضیو په اړه پرېکړې وکړې؛ خو د هغو قضیو له ډلې چې ډېرې مهمې، پېچلې او ستونزمنې وې، ځینې یې حضرت عثمان (ﷺ) ځانته ځانګړې کړې وې، په دغه قضیو کې به یې خپله پرېکړه کوله؛ خو له خپلو صحابه کرامو (ﷺ) سره به یې مشوره هم کوله، چې قاضیان یې هم په ډله کې شامل وو.

**د عثمان (ﷺ) په خلافت کې مشهور قاضیان:**

۱-ابو الدرداء:

هغه ابو الدرداء عویمر بن مالک انصاري خزرجي صحابي دی، هغه ته د عثمان (ﷺ) په زمانه کې د دمشق قضاء چارې ور سپارل شوې وې او نوموړی د عثمان (ﷺ) د خلافت له پای ته رسېدو څخه دوه کاله مخکې وفات شو.

۲-نافع بن عبدالحارث:

هغه نافع بن عبدالحارث خزاعي دی، د عمر (ﷺ) په دوره کې د مکې والي او قاضي تېر شوی او عثمان (ﷺ) په خپل منصب پرېښود.

۳-سفیان بن عبدالله:

هغه سفیان بن عبدالله ثقفي دی، د عمر (ﷺ) په دوره کې د طائف والي او قاضي و او عثمان (ﷺ) په خپل مسئولیت برقراره پرېښود.

۴-زید بن ثابت:

په مدینه منوره کې قاضي و.

۵-کعب بن سور:

په بصره کې قاضي و.

۶-ابو موسی اشعري:

د بصرې قاضي او والي و.

۷-شریح بن الحارث:

د کوفې قاضي و.

۸-یعلی بن امیه:

د بني نوفل بن عبدالمناف حلیف و او په یمن کې قاضي و.

۹-ثمامه:

د صنعاء قاضي و.

۱۰- عثمان بن قیس:

هغه عثمان بن قیس بن ابي العاص نومېږي، دا هغه څوک و، چې د خپل پلار قیس بن ابي العاص چې په مصر کې قاضي و، تر وفات وروسته د عثمان (ﷺ) په زمانه کې ده ته د مصر د قضاء چارې وسپارل شوې او د عثمان (ﷺ) تر شهادت وروسته وفات شو او په مصر کې مستقل قاضي د معاویه (ﷺ) تر وخته نه و. [ تاریخ القضاء في الاسلام،ص:۱۴۶].

**د علي بن ابي طالب (ﷺ) په خلافت کې قاضیان:**

امیر المؤمنین علي بن ابي طالب (ﷺ) ځینې هغه قاضیان، چې له مخکې د قضاء پر منصب وو او ښه ثابت شوي وو، پر

خپل حال پرېښودل او ځینې نور يې وټاکل:

۱-شریح بن الحارثه:

شریح بن الحارثه هغه څوک و، چې له مخکې د کوفې قاضي و او علي(ﷺ) خپل منصب پرېښود او رزق (معاش) يې هره میاشت (۵۰۰) درهمه وو.

۲-ابو موسی اشعري:

ابو موسی اشعري هغه څوک و، چې عثمان (ﷺ) د کوفې قاضي ټاکلی و او علي (ﷺ) په خپل مسئولیت پرېښود او وروسته يې لیرې کړ.

۳- عبدالله بن مسعود:

د یمن والي او قاضي و.

۴- قیس بن سعد:

قیس بن سعد ته د مصر چارې ور سپارل شوې وې او وروسته په محمد بن ابي بکر (رضي‌الله‌عنهما) باندې لیرې کړل شو.

۵- عثمان بن حنیف:

د بصرې قاضي و.

٦-عماره بن شهاب:

د کوفې قاضي و.

۷-قثم بن عباس:

په ۳۷هجري کال کې د مدینې منورې چارې ور وسپارل شوې.

۸-جعده بن هبیره:

جعده بن هبیره مخزومي او وروسته خلید بن قره الیربوعي ته د خراسان چارې ورسپارل شوې وې.

۹-عبدالله بن عباس:

هغه د بصرې والي و او ابو الاسود الدؤلي يې د قضاء چارې پر مخ وړلې، په یوه روایت کې راغلي، چې عبدالله بن عباس په بصره کې د قضاء لپاره عبدالرحمن بن یزید الحدائي وټاکه، نوموړی د علي بن ابي طالب (ﷺ) د خلافت پر مهال او د معاویه (ﷺ) د واک تر یوې برخې پورې قاضي پاتې شو، تر هغه چې زیاد راغی او له دندې يې لیرې کړ.

ابو عبیده وایي: ابن عباس (رضي‌الله‌عنهما) به خلکو ته فتوا ورکوله او د هغوی ترمنځ به يې فیصلې کولې، کله چې ابن عباس له بصرې څخه بهر ووت، ابو الاسود به يې خپل ځای ناستی ټاکه؛ نو هغه به هم مفتي او هم قاضي و، په هغه وخت کې قاضي ته «مفتي» ویل کېدل، ابو الاسود پر همدې دنده پاتې شو، تر دې چې په ۴۰م هجري کال کې وفات شو.

۱۰- سعید بن نمران الهمداني:

سعید د نمران زوی الهمداني باندې یادېږي، کله چې علي (ﷺ) کوفې ته راغی، د کوفې د قضاء لپاره يې وټاکه، وروسته يې له دندې گوښه کړ، بیا مصعب بن زبیر هغه د کوفې قاضي وټاکه او نوموړي درې کاله قضاوت وکړ، وروسته ابن زبیر عبدالله بن عتبه بن مسعود وټاکه.

۱۱- عبیده السلماني:

هغه عبیده السلماني محمد بن حمزه نومېږي، علي (ﷺ) هغه د سعید الهمداني له گوښه کولو وروسته د کوفې د قضاء لپاره وټاکه، بیا يې هغه هم له دندې گوښه کړ او شریح يې قاضي وټاکه.

شعبي وایي: د خلکو ترمنځ د قضاء په علم کې شریح تر ټولو پوه و او عبیده په قضاء کې له شریح سره سیالي کوله، د هغه ځینې فیصلې ډېرې په زړه پورې او ځانگړې وې، هغه د کوفې له مشهورو علماوو څخه و او شریح به ورسره مشوره کوله او په ډېرو چارو کې به يې د هغه نظر ته رجوع کوله.

۱۲- محمد بن یزید:

هغه محمد بن یزید بن خلیده الشیباني نومېده، علي (ﷺ) هغه د کوفې قاضي وټاکه او په کوفه کې يې گڼې فیصلې کړې دي. [موسوعة السیر ۳۱۱\٦].

**په یوه ښار کې د څو قاضیانو ټاکل:** لکه څنگه چې څرگنده شوه، په یوه ښار کې د څو قاضیانو ټاکل په یو وخت کې نه و؛ بلکې په نوبتي ډول و، یعنې یو قاضي به له دندې گوښه کېده او پر ځای به يې بل قاضي ټاکل کېده؛ خو کوم ځایونو کې چې په یوه وخت کې د څو قاضیانو د شتون یادونه شوې ده، هلته هر قاضي د ښار په یوه ځانگړې سیمه او برخه باندې ټاکل شوی و.

له دې سره په لنډ ډول د راشده خلافت په دوره کې د قضاء د نظام د تنظیم بیان پای ته ورسېد، د دې موضوع تفصیل د تاریخ ژوند لیکونو په کتابونو کې موندلی شئ.



# د حنفي مذهب اته (۸) سترې ځانګړتیاوې

ليکوال: مفتي عزت الله «درويش»[۱]

دا يو ثابت حقيقت دی، چې د حنفي فقه تدوين د شورا پر اساس شوی دی، همدا وجه ده چې اجتماعي اجتهاد، آزاد بحث او تنقيد په دې فقهي مذهب کې د عقل، شرعي نصوصو، شرعي مقاصدو او د انساني مصالحو تر منځ يو خاص توازن رامنځته کړی، چې دا ځانګړنه په نورو فقهي مذاهبو کې لږه ليدل کيږي.

د حنفي فقه د اجتهاد طريقه، د إستنباط أصول او د دې فقه د مذهب مستنبط جزئياتو او فروعاتو ته په کتو سره د دې فقهي مذهب د يو څو ځانګړتياوو او امتيازاتو يادونه مناسب ده:

۱- د نصوصو زيات اهتمام:

د حنفي فقه تر ټولو لويه ځانګړتيا دا ده، چې په دې فقهي مذهب کې شرعي نصوصو ته ډېر ارزښت ورکړل شوی دی، په دې فقهي مذهب کې خبر واحد د قياس نه مقدم ګڼل شوی، همدا راز مرسل حديث (هغه حديث چې تابعي يې پرته له واسطې رسول الله (صلى الله عليه وسلم) ته نسبت کوي او د صحابي ذکر په کې قطع کړي) إمام أبو حنيفه (رحمه الله) د خاصو شرايطو او تفصيلاتو سره قبول کړی.[۲]

۲- په حنفي فقه کې د «نصوصو کثرت» (د قران کريم او نبوي احاديثو ډېروالی) د احکامو د إستنباط لپاره تر ټولو مهم اساس دی، په دې اړه ځينې مهم ټکي په لاندې ډول دي:

د نصوصو د تعامل او تطبيق طريقه:

حنفي فقهاوو د نصوصو د کثرت په وخت کې د «جمع او تطبيق» أصول کاروي، دوی هڅه کوي، چې د ټولو هغو نصوصو تر منځ چې په يوه موضوع کې راغلي وي، يو داسې توازن پيدا کړي، چې يو نص د بل نص د رد لامل نه شي، د دوی په نزد، که دوه نصوص په ظاهره سره په ټکر کې ښکاري؛ نو لومړی يې د جمع کولو هڅه کيږي.

د نصوصو د عموم او خصوص رعايت:

کله چې نصوص ډېر وي، حنفي فقهاء د «عام» او «خاص» نصوصو تر منځ توپير کوي، که يو نص عام وي او بل خاص؛ نو خاص نص د عام نص د حکم د محدودولو لپاره کارول کيږي، دا په نصوصو د عمل غوره طريقه ده.

د نصوصو د کثرت او قياس اړيکه:

حنفي فقهاء د نصوصو د کثرت په موجوديت کې قياس ته اجازه نه ورکوي، د دوی قاعده دا ده، «کله چې نص موجود وي، قياس باطل دی»؛ نو که په يوه موضوع کې نصوص ډېر وي، فقهاء د هماغه نصوصو په رڼا کې حکم کوي او د قياس اړتيا نه پاتې کيږي.

۳- ضعيفو رواياتو ته ځای ورکول:

آن په عباداتو کې د احنافو مذهب دا دی، چې ضعيف حديث (کوم چې د متقدمينو په نزد حسن حديث وي) د قياس په مقابل کې ترجيح لري.

له همدې امله د حنفي فقه په کتابونو کې ډېر داسې مثالونه شته، چې قياس پرېښودل شوی او ضعيف حديث ته ترجيح ورکړل

---

۱ - ديني عالم او ليکوال

۲ - التقريب ۱/۳.

شوې ده، د بېلګې په توګه:
که یو لمونځ کوونکی د لمانځه پر مهال په لوړ غږ په (قهقهه) وخاندي؛ نو د قیاس له مخې باید د هغه اودس مات نه شي؛ ځکه چې قهقهه خندا د نجاست د وتلو سبب نه ګرځي؛ خو په دې اړه یو ضعیف حدیث شته، چې وایي: چا که په قهقهه خندلي، اودس او لمونځ د راوګرځوي.[1]
نو ځکه احنافو د قیاس په پرېښودو سره دا ضعیف حدیث غوره ګڼلی دی او قهقهه خندا یې د اودس ماتوونکې بللې ده.[2]
۴- د تجارت په اړه د شرعي قانون دقیقه څېړنه:
په عباداتو کې زیات نصوص (آیتونه او حدیثونه) راغلي دي، د نکاح او وراثت په اړه هم ډېر جزئیات او تفصیلات په کتاب الله او سنت کې شته؛ خو د تجارت په باب کې یوازې ضروري أصول او اساسي قواعد بیان شوي دي، چې پرې د شریعت د مقاصدو وضاحت کېږي، جزئي تفصیلات ډېر کم ذکر شوي دي او دا کار د شرعي مصلحت او حکمت سره سم دی؛ ځکه که د عباداتو په څېر په معاملاتو (تجارت) کې هم کلک حدونه اېښودل شوي وای؛ نو د وخت او حالاتو له بدلون سره سم به عمل پرې کول ډېر سخت او ناممکن شوی وای؛ ځکه د تجارت جزئي تفصیلات قیاس، اجتهاد او إستنباط ته پرېښودل شوي دي او د همدې تفصیلاتو په وضاحت کې دقیق نظر د مجتهد د بصیرت او پوهې أصل نښه ده.
إمام أبو حنیفه (رحمه الله) یو لوی تاجر و، د کوفې ښار کې تر ټولو لوی دوکان د هغه و؛ نو طبعي ده چې د تجارت احکام په څومره تفصیل، پراخوالي، ژورتیا او دقیق نظر سره د هغه په فقه کې موندل کېږي، د نورو په فقه کې نه موندل کېږي.
مثلاً: په حدیث کې له قبضې (یعنې ملکیت ته د رسېدو) نه مخکې د کوم مال د خرڅولو څخه منع شوې ده؛ خو إمام أبو حنیفه (رحمه الله) د ځمکې معامله د منقوله مال (یعنې د لیږد وړ مال) له حکم څخه استثناء کړې ده؛ ځکه د شریعت اساسي مقصد دا دی، چې خلک له دوکې او غرر (نامعلوم یا مشکوک معاملې) څخه وساتل شي.
په منقوله مال کې دا احتمال شته، چې ممکن له قبضې مخکې تلف او ضایع شي؛ خو په غیر منقوله جایداد، لکه ځمکه کې په ښکاره دا احتمال نه لیدل کېږي.[3]
په حدیث کې په ځینو مواردو کې له کوم تفصیل پرته د ذخیره اندوزۍ (احتکار) نه منع شوې ده.[4] او په ځینو ځایونو کې په ځانګړې توګه د خوراکي توکو د ذخیره اندوزۍ منع شوې ده.
دا چې إمام أبو حنیفه (رحمه الله) د خلکو له اړتیاوو ښه خبر و او دا یې هم درک کړې وه، چې ځینې توکي داسې وي، چې د کال تر اوږدو پورې یې د دوامداره موجودیت لپاره یو ډول ذخیره ساتل ضروري وي.
په داسې مواردو کې د شریعت أصل مقصد دا نه دی، چې د خرڅلاو لپاره ذخیره منع کړي، بلکې هدف دا دی، چې له پیرودونکو څخه استحصال ونه شي او خلک د ورځني ژوند په مهمو چارو کې له ستونزو او سختیو وژغورل شي.
د دې ټولو اړخونو په نظر کې نیولو سره، إمام صاحب دا نظر وړاندې کړی دی، چې نه خو په هر شي کې احتکار منع دی او نه هم دا ممانعت یوازې د خوراکي شیانو پورې محدود دی، بلکې هر هغه توکي چې انسان ورته اړتیا لري او په ذخیره ساتلو یې خلک له ستونزو سره مخ کېږي هم په دې حکم کې داخل دي.[5]
په بیع سلم (پر مخکې پیسو اخیستل او وروسته مال سپارل) کې د معاملې پر وخت مبیعه (خرڅېدونکی مال) شتون نه لري، بلکې وروسته ورکول کېږي؛ ځکه ضروري ده، چې د هغه مال دقیق تعین وشي، څو وروسته د شخړې هېڅ امکان پاتې نه شي.
په حنفي فقه کې د دې مسئلې ډېر تفصیلات شته، إمام أبو حنیفه (رحمه الله) دا لازم ګڼي، چې د خرڅېدونکي مال

---

۱ - نخبة الأفکار في تنقیح مباني الأخبار في شرح معاني الآثار، ۶۴/۲.

۲ - إعلام الموقعین: ۸۵/۱.

۳ - البحر الرائق، فصل– ۲۲۸/۲.

٤ - صحیح مسلم: ۳۱۲/۸، حدیث شمېره: ۳۰۱۲.

۵ - بدائع الصنائع، کتاب الاستحسان: ۲۳.

جنس، ډول، اندازه، صفت، د ورکړې موده، د مال د سپارلو ځای او دا هم واضح شي، چې د کوم ښار تولید دی؛ ځکه د مختلفو ښارونو صنایع او قیمتونه ډېر توپیر سره لري.[1]

همدا راز إمام أبو حنیفه (رحمه الله) د غوښې په اړه د بیع سلم اجازه نه ده ورکړې او علت یې دا بیان کړی، چې غوښه کله څربه وي او کله کمزورې.[2]

په هر حال، د تجارتي قوانینو په برخه کې ډېر جزئیات شته، چې دا ټول د إمام صاحب د ژور بصیرت، دقیق درک، د شریعت په مقاصدو پوهه، د انساني اړتیاوو پېژندنه، تاجرانه مزاج او د احتیاطي تدابیرو ښکاره نښې دي.

۵-حنفي مذهب په نړیواله کچه د تر ټولو زیاتو پیروانو لرونکی مذهب دی:

د حنفي مذهب د پراختیا یو مهم لامل د إمام أبو حنیفه (رحمه الله) د شاګردانو، په ځانګړې توګه د إمام أبو یوسف او إمام محمد (رحمهما الله) علمي هڅې وې، إمام أبو یوسف د عباسي خلافت په دوره کې د «قاضي القضات» په توګه دنده ترسره کوله، چې له امله یې د حنفي مذهب أصول د عدلي او قضائي نظام په توګه په پراخه کچه پلي شول.

همدارنګه، د اسلامي فتوحاتو په لړ کې دغه مذهب د خراسان، ماوراء النهر او هند تر ختیځو پولو پورې ورسېد، د افغانستان خلکو هم د اسلامي تمدن په خپرولو کې د علمي او فرهنګي خدمتونو په ترسره کولو سره د دې مذهب په پیاوړتیا کې ستر رول ولوباوه.

حنفي مذهب د عقل او نقل تر منځ د توازن او د ټولنیزو مصلحتونو د رعایت له امله د بېلابېلو کلتورونو او سیمو خلکو ته د منلو وړ وګرځېد او په نړیواله کچه د تر ټولو زیاتو پیروانو لرونکی مذهب شو.

هغه کسان چې د حنفي فقه په اړه ژور نظر لري، پوهېږي چې د دې فقه اوسنی بنې ته راوستلو کې د امت د سترو پوهانو، هوښیارو او د وخت د سترو عالمانو او فقهاوو خدمتونه شامل دي.

د إمام أبو حنیفه (رحمه الله) څخه وروسته د هغه نابغه او مجتهدو شاګردانو، لکه: إمام أبو یوسف او إمام محمد (رحمهما الله) د حنفي فقه متبعین، له هر ډول ګمان او شک څخه راویستلي، بلکې دغه حضراتو د خپل استاد إمام صاحب پر هرې یوې مسئلې تنقیدي نظر کړی دی، د دغه مسائلو لپاره یې دلایل روښانه کړي دي او بیا دغو حضراتو له نورو فقهاوو هم استفاده کړې ده او له هغوی سره یې لیدنې شوي دي، لکه: إمام مالک، إمام شافعي (رحمهما الله) وغیره... او له هغوی څخه یې اختلافي مسائل اورېدلي دي.

دا حنفي علماء یوازې په دې معنی حنفي دي، چې دوی د خپل إمام د اجتهاد له أصولو او دایرې څخه نه وتل، حالانکه دوی د کتاب او سنت څخه د احکامو په استخراج او إستنباط کې پوره مجتهدین وو، کله له حضرت إمام صاحب سره اتفاق کوي او کله اختلاف هم، دا حضرات د «مجتهد في المذهب» په مرتبه کې دي.

بیا له دې دربیو څخه چې کوم مسائل پاتې شوي، هغه د إمام طحاوي (رحمه الله) په څېر حضراتو حل کړي دي، إمام طحاوي د «اجتهاد في المسائل» مرتبې فقیه دی.

بیا وروسته د دربیو امامانو (صاحبین او إمام صاحب) په إستنباط کړو مسائلو باندې د نویو مسائلو تخریج کړل شوی، إمام کرخي (رحمه الله) په دې برخه کې ډېر پراخ کار کړی دی.

بیا وروسته د ترجیح ورکونکو امامانو نوبت راځي، لکه علامه برهان الدین مرغیناني د «هدایې» صاحب وغیره...

نو هر هغه څوک، چې په فقه حنفي پوره نظر ولري، د هغه په ذهن کې به هېڅکله دا وسوسه پیدا نه شي، چې د إمام ابوحنیفه مذهب لکه څنګه چې مخالفین وایي هغه شان دې وي، د حنفي فقه په دې تاریخي شالید کې د دې وهم (ګمان) هم د چا په ذهن کې نه پیدا کېږي.

فائده: په فقه حنفي کې د امامانو بېلابېل اقوال او د هغوی بېلابېل تخریجات موندل کېږي، عمل یوازې په «مفتی به» (هغو اقوالو چې فتوا پرې ور کول کېږي) کېږي، نور اقوال یوازې د بصیرت پیدا کولو لپاره تر بحث لاندې نیول کېږي.

۶-د اسلامي نړۍ لومړنۍ مدونه (منظمه) فقه:

---

۱ - الدر المختار، باب السلم: ۲۳۳/۲۰.

۲ - الدر المختار، باب السلم: ۲۴۲/۲۰.

د حنفي فقه یوه امتیازي ځانګړنه دا ده، چې دا د اسلامي نړۍ لومړنۍ باقاعده فقه ده، له إمام صاحب (رحمه الله) مخکې هم د تفقُّه (فقهي پوهې) بېلابېلې دایرې وې؛ خو د دې تفقُّه پر اساس د یوې باقاعده فقه جوړول تر ټولو لومړی إمام صاحب ترسره کړل.

د حنفي فقه لومړنۍ امتیازي ځانګړنه دا ده، چې دا د اسلامي نړۍ لومړنۍ باضابطه مدونه فقه ده، مؤرخینو او محدثینو له کوم ځنډ پرته پر دې اعتراف کړی دی.

زموږ د علمي ماضي یوه ښکلا دا هم ده، چې د یو بل د امتیازاتو او ځانګړنو په اعتراف کې زموږ علماوو هېڅکله بخل نه دی کړی.

إمام جلال الدین سیوطي (رحمه الله)، چې د شافعي مسلک له سترو عالمانو څخه دی او یو پیاوړی شافعي عالم دی؛ خو د إمام اعظم ابوحنیفه د عظمت په اعتراف کې یې کتاب لیکلی دی او په کې اعتراف کوي چې: «أول من دوّن الفقه و رتب أبوابه»؛ یعنې لومړنی کس چې فقه یې مدونه کړه، ابواب یې مرتب کړل او د ابوابو په لحاظ یې فقه منظمه کړه، هغه ابوحنیفه نعمان بن ثابت (رحمه الله) دی.

موږ دې عمل ته فقه هم وایو، تفقُّه هم وایو او د فقه تدوین هم وایو؛ خو په نننۍ اصطلاح کې ورته قانون جوړونه (قانون سازي) ویل کېږي.

قانون جوړونه څه ته وايي؟ هغه څه، چې په لومړیو کې ورته «فقه فرضي» ویل کېده او ډېرو پوهانو د ځینو تحفظاتو له امله ترې ډډه کوله، داسې پوهان د صحابه کرامو (رضي الله عنهم) او تابعینو په منځ کې هم وو، چې د فرضي فقه په اړه یې تحفظات لرل او ویل به یې، چې تر څو کومه مسئله نه وي پېښه شوې، په اړه یې تردد او تحقیق مه کوئ.

کله چې کومه معامله پېښه شي، بیا یې په اړه پلټنه وکړئ؛ خو زه وایم چې د تحفظاتو دایره جلا ده او د اړتیاوو دایره جلا ده، د تحفظاتو نړۍ دا ده، چې له دې کاره باید ډډه وشي، له دې کاره باید ځان وساتل شي، په فلانۍ معامله کې باید لاس ونه وهل شي او داسې نور؛ خو کله چې اړتیاوې پېښې شي، د هغوی دایره له دې سره توپیر لري، چې فلانۍ اړتیا هم باید پوره شي او د فلانۍ اړتیا تقاضاوې هم باید په پام کې ونیول شي.

د حیرانتیا خبره دا ده، چې په هره زمانه کې د تحفظاتو او اړتیاوو تر منځ کشمکش موجود و، دا کشمکش د تابعینو له زمانې پیل شوی، نن هم شته او تر قیامته به وي، تحفظات او اړتیاوې دواړه لازمې دي.

زه تحفظات او اړتیاوې د یوې ګاډۍ د دوو ټایرونو په څېر تعبیروم، چې د تحفظاتو دایره هم نه شي پرېښودل کېدای او د اړتیاوو له دایرې هم انکار نه شي کېدای.

د دې دواړو تر منځ د توازن ساتلو نوم «علم الفقه» دی.

لکه څنګه چې د ګاډۍ د ټایرونو «ویل بیلنسنګ» کېږي، معاینه کېږي او تر منځ یې توازن ساتل کېږي، چې که دا بیلنس نه وي، ګاډۍ یوې خوا ته کږېږي.

زه دا وایم، چې إمام ابوحنیفه (رحمه الله) لومړنی کس دی، چې د فقه فرضي، یا قانون جوړونې، یا تر هغه وخته د نه پېښو شویو مسائلو د مخکني حل په لور یې د یوې ادارې په بڼه ګام پورته کړ او نړۍ ته یې وښوده، چې دا د امت اړتیا ده او اړتیاوې ډېر وخت نه شي درول کېدای.

امام صاحب داسې ګام پورته کړ، چې تر ننه پورې د اسلامي نړۍ د فقه او قانون اساس پر همدې ګام ولاړ دی، نن هم چې د قانون جوړونې لپاره اړتیا پېښه شي، پیل له هغه ځایه کېږي، چې په دې معامله کې د إمام ابوحنیفه (رحمه الله) د فقه (صفري نقطه) څه ده.

دا د حنفي فقه امتیاز دی، چې د قانون جوړونې پیل حنفي فقه وکړ او د دستور جوړونې (اساسي قانون) پیل هم حنفي فقه وکړ، قانون جوړونه دا وه، چې د امام ابوحنیفه (رحمه الله) په مجلس کې به له ۳۵ تر ۴۰ پورې عالمان ناست وو، چې هر یو یې د خپل فن ماهر و.

هغوی به پر مسائلو بحث کاوه، چې په کې اختلاف هم و، اتفاق هم او په پایله کې یو قانون جوړېده؛ خو د دستور جوړونې پیل له کومه شو؟ لومړنی باقاعده تحریري دستور د هارون الرشید په غوښتنه إمام أبو یوسف (رحمه الله) ولیکه.

د وخت حکومت، أمیرالمؤمنین هارون الرشید له قاضي القضات إمام أبو یوسف څخه غوښتنه وکړه، چې تاسو ماته په تحریري بڼه داسې یو قانون مرتب کړئ، چې له مخې یې زه نظام وچلوم.

إمام ابویوسف په دې یو کتاب ولیکه، چې موږ یې د «کتاب الخراج» په نوم یادوو، دا «الخراج» ملک د نظام چلولو دستور

و، په کې ډېرى د معاشاتو مسائل دي؛ خو په ټوليزه توګه دا يو دستوري چوکاټ و، چې تر ټولو لومړى د خليفه هارون الرشيد په غوښتنه إمام أبو يوسف وليکه او دا دستور نافذ پاتې شو.
نو لومړنى امتياز دا دى، چې په اسلامي نړۍ کې د قانون جوړونې پيل هم حنفي فقه وکړ او د دستور جوړونې پيل هم حنفي فقه وکړ.
لومړنى مدون قانون إمام صاحب او د هغه شاګردانو وړاندې کړ، په داسې حال کې چې لومړنى مدون اقتصادي دستور د إمام صاحب شاګرد إمام أبو يوسف وړاندې کړ.

۷- د روايت او عقل ترمنځ توازن:

د حنفي فقه بل ستر امتياز د روايت او درايت ترمنځ توازن دى، يعنې په خپل خپل ځاى کې له وحي او عقل څخه سمه ګټه اخيستنه، زموږ د دين اساس پر وحي ولاړ دى؛ خو له عقل څخه انکار هم نه کوو، بلکې د يوې مرستندويې وسيلې په توګه د عقل سم استعمال خپله د دين تقاضا ده، چې د احنافو په مذهب کې يې اهتمام تر ټولو ښه ليدل کېږي.
په هغه دور کې د «اصحابِ ظاهر» اساس يوازې پر روايت و، په داسې حال کې چې معتزله‌وو عقل او درايت يوازينى معيار ټاکلى و، په هغه وخت کې چې د روايت او درايت د شخړې پيل کېده او دا شخړه په يو طوفان بدله شوې وه، د تاريخ د يو زده‌کوونکي په توګه زه ويلاى شم، چې د إمام ابوحنيفه (رحمه الله) تر ټولو ستر کار دا و، چې د روايت او درايت په دې طوفاني شخړه کې يې د دواړو تر منځ د اعتدال او توازن دريځ خپل کړ، إمام صاحب په اعتدال سره د روايت او درايت تر منځ اړيکه ټينګه کړه او نړۍ ته يې وښوده، چې روايت خو زموږ اساس دى؛ خو درايت (عقلاني پوهه) هم زموږ نه شلېدونکې اړتيا ده.
دا خبره يوازې هغه څوک ښه درک کولاى شي، چې د هغه دور پر تاريخ نظر ولري، چې د روايت او درايت شخړې څه ډول طوفان راپورته کړى و، که په اسبابو کې إمام ابوحنيفه د روايت او درايت ترمنځ د توازن او اعتدال بيرغ نه واى پورته کړى؛ نو خداى خبر چې دا طوفان به تر کومه ځايه تللى واى.
إمام صاحب (رحمه الله) وښوده، چې د روايت دايره دا ده او د درايت دايره هغه ده، دواړه يو له بل سره لازم او ملزوم دي، د درايت (عقل) پرته د روايت پوهېدل ممکن نه دي او د روايت پرته درايت (يوازې عقل) ګمراهي ده.
د دې خبرې لنډيز دا دى، چې د روايت د پوهېدو لپاره درايت اړين دى، په داسې حال کې چې يوازې درايت، چې د روايت پرته وي، ګمراهي ده، همدا د إمام صاحب (رحمه الله) د فکر لنډيز دى، چې نړۍ ته يې وښوده، چې د عقل او وحي ترمنځ اړيکه څه ده.

۸- د إمام صاحب ټول مستدلات صحيح دي:

د حضرت إمام أبو حنيفه (رحمه الله) په ټولو مستدلاتو کې چې څومره روايات دي، هغه ټول صحيح دي.
لکه څرنګه چې إمام عبدالوهاب شعراني (رحمه الله)، کوم چې په شافعي المسلک علماوو کې لوى محدث او فقيه دى، ويلي دي:
الله تعالى له ما سره دا احسان وکړ، چې ما د إمام أبو حنيفه (رحمه الله) درې واړه مسانيد مطالعه کړل او دې نتيجې ته ورسيدم، چې د إمام أبو حنيفه د رواياتو څخه کوم يو روايت هم په ضعيف سند سره روايت شوى نه دى، بلکې ټول روايات يې د خيار تابعين او د داسې ثقه راويانو څخه مروي دي، چې د خيرالقرون په لوړه درجه راويانو کې شامل دي، لکه: إمام اسود بن يزيد، إمام علقمه، إمام عطاء بن أبي رباح، إمام عکرمه، إمام مجاهد بن جبر، إمام مکحول، إمام حسن بصري او د دوى د درجې برابر نور لوى لوى حفاظ حديث.
د حضرت إمام أبو حنيفه (رحمه الله) او د رسول اکرم (صلى الله عليه وسلم) تر منځ چې څومره راويان دي، ټول عادلان، ثقات، اعلام او د کبارو تابعينو څخه دي، په دوي کې نه کوم کذاب (دروغجن) شته او نه کوم متهم بالکذب.[1]
الغرض: دا ځانګړتياوې دا ښايي، چې حنفي مذهب يو معتدل، متوازن، او د شرعي مقاصدو او انساني مصالحو سره همغږى فقهي مذهب دى.

---
۱ - اوجز المسالک، مطبعه دارالقلم دمشق ۱/ ۱۸۷.

# د قضاء تعریف او حکم

مفتي رحمن الله «القاسمي»[1]

## مقدمه

الحمد لله الذى أمر بالعدل والاحسان وجعل القضاء ميزانا لاقامة الحق بين الانام والصلاة والسلام على خير من حكم بالعدل والقسط نبينا محمدًا -صلى الله عليه وسلم- وعلى آله واصحابه اجمعين. اما بعد:

په شریعت کې مهم کار په ښه ډول سره قضائي کارونه پر مخ وړل دي، د انسانانو ترمنځ په عدل سره فیصله کول یو غوره عمل او له اهمو عباداتو څخه شمیرل کیږي؛ ځکه چې د قضاء د لارې د انسانانو تر منځ شخړې ختمیږي، د ظالم مخنیوی او مظلوم سره مرسته کیږي، په ښه توګه د شریعت ټول احکام پلی کیږي؛ خو د احکامو په تطبیق کې عدل کول ضروري دی؛ ځکه الله -جل جلاله- بار بار په عدل کولو امر کړی. لکه الله تعالی فرمايي: (وَإِذَا حَكَمْتُمْ بَيْنَ النَّاسِ أَنْ تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ). همدارنګه: (إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ). همدارنګه: (فَإِنْ فَاءَتْ فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا بِالْعَدْلِ وَأَقْسِطُوا إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ). د همدې ایاتونو څخه څرګندیږي، چې څوک د خلکو تر منځ فیصله کوي؛ نو په عدل سره دې وکړي. څرنګه چې د شریعت موافق فیصله کول یو درونډ مسئولیت دی؛ نو قاضي باندې لازم دی، چې د مدعي او مدعی علیه سره د خبرو پر وخت له پوهې، عدالت، تقوا او په ښه سلوک څان برابر کړي، له ذاتي خواهشاتو څخه ځان وساتي او خپل هدف یوازې د الله -جل جلاله- رضا وګرځوي. په همدې اساس د قضاء پېژندنه ستاسو درانه حضور ته وړاندې کیږي.

## د قضاء تعریف

قضاء په لغت کې په ډېرو معنیګانو سره راځي:

لومړی: په معنی د حُکم (فیصلې) سره راځي، لکه الله تعالی فرمايي: {وَاللَّهُ يَقْضِي بِالْحَقِّ} أي: يحكم بالحق (بالعدل).[2] یعنې الله -جل جلاله- په حقه فیصله کوي.

دویم: په معنی د أمر سره راځي، لکه الله تعالی فرمايي: {وَقَضَى رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ} أي: أمر ربك.[3] یعنې الله -جل جلاله- امر کړی چې تاسو له ما څخه ماسوا نور د هېچا عبادت مه کوئ.

دریم: په معنی د خلق (پیدا کولو) سره راځي، لکه الله تعالی فرمايي: {فَقَضَاهُنَّ سَبْعَ سَمَوَاتٍ فِي يَوْمَيْنِ} أَيْ: خَلَقَهُنَّ.[4] یعنې بیا پیدا کړه الله تعالی اووه (۷) اسمانونه په دوو ورځو کې.

څلورم: په معنی د أدا (پوره کولو) سره راځي، لکه الله تعالی فرمايي: {فَإِذَا قَضَيْتُمُ الصَّلَاةَ} أَيْ: أَدَّيْتُمُوهَا.[5] یعنې کله چې پوره کړه تاسو لمونځونه خپل.

پنځم: په معنی د إبلاغ او إخبار (اعلان) سره راځي، لکه الله تعالی فرمايي: {وَقَضَيْنَا إِلَيْهِ ذَلِكَ الْأَمْرَ} أَيْ: أَبْلَغْنَاهُ أخبرناه ذَلِكَ.[6] یعنې خبر او اعلان مو ورته کړی و (لوط علیه السلام) ته د دغه کار.

شپږم: په معنی د عَهد (وعدې سره) راځي، لکه الله تعالی فرمايي: {وَقَضَيْنَا إِلَى بَنِي إِسْرَائِيلَ فِي الْكِتَابِ} أَيْ: عَهِدْنَا.[7] یعنې وعده مو کړې وه موسی -علیه السلام- سره په کتاب (تورات) کې.

اووم: په معنی د وصیت سره راځي، لکه الله تعالی فرمايي: {إِذْ قَضَيْنَا إِلَى مُوسَى الْأَمْرَ}أی: أَوْصَيْنَاه.[8] یعنې کله چې مو وصیت وکړ موسی -علیه السلام- ته په رسالت سره (فرعون) ته.

اتم: په معنی د إتمام (پوره والي) سره راځي، لکه الله تعالی

---

۱- د ننګرهار ولایت د دره نور ابتدائیه محکمې قضائي محرر

۲ - سورة المومن، الايه: ۲۰. فتح الرحمن في تفسير القرآن: جـ ٦ صـ ١٠٦. و أيسر التفاسير: جـ ٤ صـ ٥٢٢.

۳ - سورة الإسراء، الايه: ۲۳. تفسير القرطبي: جـ ۱۰ صـ ۲۳۷. و تفسير السمرقندى جـ ۲ صـ ۳۰٦ .

٤ - سورة فصلت، الايه: ۱۲. تفسير القرطبي: جـ ۲ صـ ۸۸. و التفسير المظهري: ۸ صـ ۲۸٤.

٥ - سورة النساء، الايه: ۱۰۳. تفسير أبي السعود: جـ ۲ صـ ۲۲۸. تفسير المنار: جـ ٥ صـ ۳۱۱. روح البيان: جـ ۲ صـ ۲۷٦.

٦ - سورة الحجر، الآيه: ٦٦. غريب القرآن لابن قتيبة: صـ ۲۰۳. و معاني القرآن للنحاس: جـ ٤ صـ ۳۲.

۷ - سورة الإسراء ، الايه: ٤. تفسير مقاتل بن سليمان: ۲ صـ ٥۲۱.

۸ - سورة القصص، الايه: ٤٤. الوجوه والنظائر لمقاتل بن سليمان: صـ ٤۱.

فرمايي: {فَلَمَّا قَضَيْنَا عَلَيْهِ الْمَوْتَ} أَيْ: أَتْمَمْنَا عَلَيْهِ الْمَوْتَ.[۱] يعنې کله چې پوره کړ موږ (د سليمان -عليه السلام-) مرگ.

نهم: په معنی د فعل (کار) سره راځي، لکه الله تعالی فرمايي: {فَاقْضِ مَا أَنْتَ قَاضٍ} أي: فَاصْنَعْ مَا أَنْتَ صَانِعٌ.[۲] پس وکړه هغه کار چې ته کوونکی يې.

لسم: په معنی د لزوم (لازم والي) سره راځي؛ ځکه چې د قضاء له پلوه يو حکم صادر شي، (وروسته له مراحلو څخه) په محکوم عليه شخص باندې منل لازم گرځي.[۳]

يولسم: په معنی د «إِنقِطَاع الشّيء وَتَمَامه».[٤] يعنې جگړه ختم او نهايي کول. همدغه معنی اصطلاحې تعريف سره هم سمون خوري.

**د قضاء اصطلاحي تعريف:**

احنافو علماء کرامو داسې تعريفونه ذکر کړي:

لومړی: ابن همام -رحمه الله تعالی- ليکلي: د حکم لازم والي ته قضاء ويل کيږي.[٥]

دويم: علاء الدين الکاساني الحنفي -رحمه الله تعالی- ليکلي: د خلکو ترمنځ په شريعت باندې، په حقه فيصله کولو ته قضاء ويل کيږي.[٦]

دريم: ابن عابدين الشامي -رحمه الله تعالی- ليکلي: په ځانگړې طريقې سره جگړې او لفظي شخړې ختمولو ته قضاء ويل کيږي.[۷]

څلورم: فتاوی الهنديه ليکلي: له عمومي واکدار څخه صادر شوې لازمي وينا ته قضاء ويل کيږي.[۸]

مالکيانو علماء کرامو داسې تعريف ذکر کړی: په لازمي توگه د شرعي حکم څخه خبرتيا ته قضاء ويل کيږي.[۹]

شوافعوو علماء کرامو داسې تعريف ذکر کړی: په شريعت باندې جنگ ختمولو ته قضاء ويل کيږي.[۱۰]

حنابله علماء کرامو داسې تعريف ذکر کړی: د شريعت په رڼا کې حکم لازمول او جنگ ختمولو ته قضاء ويل کيږي.[۱۱]

يادونه: په تعريفونو کې اختلاف لفظي دی نه معنوي؛ ځکه ځينو علماء کرامو د قضاء يو مفهوم بيان کړی او ځينو بل ډول؛ خو يو مفهوم بيانول دا معنی نه لري، چې هغه نور مقصودي نه دي؛ ځکه د قضاء بنسټيز مطلب دا دی، چې د خلکو تر منځ د شرعي اصولو موافق مشکلات حل شي.

**د قضاء په تعريفونو کې مهم ټکي:**

لومړی: قضاء به د شريعت په اساس وي، نه د شخصي فکر او احساساتو له مخې، (يعنې قرانکريم، سنت، اجماع او قياس شرعي) سره به برابر وي.

---

۱ - سورة سبأ، الايه: ١٤. لسان العرب: جـ ١٥ صـ ١٨٧. الموسوعة الفقهية الكويتية: جـ ٣٣ صـ ٢٨٢.

۲ - سورة طه، الايه: ٧٢. تنوير المقباس من تفسير ابن عباس: صـ ٢٦٤. و تفسير القرطبي: جـ ١١ صـ ٢٢٦. و التفسير المظهري: جـ ٦ صـ ١٥٢.

۳ - شرح «أدب القاضي للخصاف» للصدر الشهيد: جـ ١ صـ ١٢٥.

٤- شرح «أدب القاضي للخصاف» للصدر الشهيد: جـ ١ صـ ١٢٥، و الموسوعة الفقهية الكويتية: جـ ٣٣ صـ ٢٨٢. و مصطلحات المذاهب الفقهية. (صـ: ٥٨). تخريج الدلالات السمعية للخزاعي: صـ ٢٧٠.

٥ - «وَفِي الشَّرْعِ يُرَادُ بِهِ الْإِلْزَامُ» فتح القدير للكمال ابن الهمام: جـ ٧ صـ ٢٥٢.

٦ - «وَالْقَضَاءُ هُوَ: الْحُكْمُ بَيْنَ النَّاسِ بِالْحَقِّ، وَالْحُكْمُ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ» بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع: جـ ٧ صـ ٢.

٧- «فَصْلُ الْخُصُومَاتِ وَقَطْعُ الْمُنَازَعَاتِ عَلَى وَجْهٍ خَاصٍّ» الدر المختار وحاشية ابن عابدين (رد المحتار) جـ ٥ صـ ٣٥٢. و شرح أدب القاضي للخصاف (للصدر الشهيد) جـ ١ صـ ١٢٦. و الخلاصة في فقه الأقليات: جـ ٩ صـ ٣١.

٨ - «وَفِي الشَّرْعِ قَوْلٌ مُلْزِمٌ يَصْدُرُ عَنْ وِلَايَةٍ عَامَّةٍ» الاختيار لتعليل المختار جـ ٢ صـ ٨٢. الفتاوى الهندية جـ ٣ صـ ٣٠٦.

٩- حَقِيقَةُ الْقَضَاءِ الْإِخْبَارُ عَنْ حُكْمٍ شَرْعِيٍّ عَلَى سَبِيلِ الْإِلْزَامِ. مواهب الجليل في شرح مختصر خليل. جـ ٦ صـ ٨٦.

١٠ - وهو في الشرع: فصل الخصومة بحكم الله تعالى. النجم الوهاج في شرح المنهاج جـ ١٠ صـ ١٣٤.

١١ - «تَبْيِينُ الْحُكْمِ الشَّرْعِيِّ وَالْإِلْزَامُ بِهِ، وَفَصْلُ الْخُصُومَةِ» كشف المخدرات: جـ ٢ صـ ٥٤. و حاشية الروض المربع: جـ ٧ صـ ٥٠٨. و الشرح الممتع على زاد المستقنع: جـ ١٥ صـ ٢٣٥. و شرح منهج السالكين وتوضيح الفقه في الدين: جـ ٥ صـ ٢٠٨.

دویم: قاضي به ولایت عامه لري، (یعنې فیصله به هغه څوک کوي، چې د اصولو له مخې د قضاء په چارو کې عمومي واکدار وي).

دریم: قضاء به لازمه وي، (یعنې فیصله به د اصولو له مخې په محکوم علیه (نا بریالي) باندې لازمېږي).

څلورم: قضاء به په ځانګړې طریقې سره وي، (حکم به د شواهدو اسنادو او د شرعي اصولو له مخې وي).

**د قضاء موضوع:**

علامه شمس الأئمة السرخسي او علامه فخر الدین الزیلعي الحنفي -رحمهما الله تعالی- داسې لیکلي: له خلکو څخه ظلم دفع کول او عدل څرګندول/قائمول.[1]

**د قضاء غرض او هدف:** د دې په اړه فقهاء کرامو ویلي: حق حقدار ته سپارل او په ټولنه کې عدالت ټینګول.[2]

**د قضاء حکم:**

د شریعت او فقهاوو له نظره د قضاء حکم فرض کفایي دی، یعنې که په سیمه کې یو کس د قضاء دنده پر مخ بیایي؛ نو د نورو خلکو ذمه فارغېږي او که نه د جنازې د لمانځه په څېر د ټولو غاړه بنده ده.[3]

د قضاء په حکم کې د دوو خبرو یادونه ضروري ده:

لومړی فرض: یعنې فرض ځکه دی، چې الله -جل جلاله- په سورت النساء کې فرمایي: یَاأَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُوا کُونُوا قَوَّامِینَ بِالْقِسْطِ. ژباړه: ای مؤمنانو! شئ تاسو تل مضبوط ولاړ په عدل انصاف سره.[4]

تفسیر مظهري ددې ایات په تشریح کې لیکلي: قاضي باندې د خصمینو تر منځ، لکه: ناسته، ولاړه او مخامختیا؛ بلکې په هره برخه کې عدل کول واجب دي.[5]

همدارنګه علامه موصلي -رحمه الله تعالی- د أمّ سلَمة -رضی الله تعالی عنها- په روایت حدیث نقل کړی، چې رسول الله -صلی الله علیه وسلم- فرمایي: کله چې د مسلمانانو تر منځ په فیصله کولو مکلف شوې؛ نو د غوسې په حالت کې فیصلې مه کوئ، همدارنګه د (مدعي او مدعی علیه) تر منځ، لکه: کتل، مجلس، اشاره او په غږ کولو کې عدل وکړئ.[6]

دویم کفایي: یعنې کفایي ځکه دی، چې قضاء د امر بالمعروف سره اړیکه لري، امر بالمعروف فرض کفایي دی؛ نو قضاء هم فرض کفایي شوه.[7]

پایله: کله چې عدل کول فرض او امر بالمعروف کفایي شو؛ نو قضائي کارونه فرض کفایي شول.

---

۱- «إِظْهَار الْعَدْلِ» المبسوط للسرخسي: جـ۱٦ صـ ٦٠. «دَفْع الظُّلْمِ عَنْ الْعِبَادِ» تبیین الحقائق شرح کنز الدقائق: جـ ٤ صـ ۱۷۵.

۲ - «ومقصود القضاء یحصل به وهو إیصال الحق إلی مستحقه». الهدایة في شرح البدایة: جـ۳ صـ ۱۰۱. وفي الموسوعة الفقهیة الکویتیة: جـ۲ صـ ۳۸۲. «الْغَرَضُ مِنْهُ إِقَامَةُ الْعَدْلِ ...».

۳ - «ولو امتنع یأثم لأن القضاء فرض کفایة بمنزلة صلاة الجنازة» فتاوی قاضیخان: جـ۲ صـ ۲۰۰. و الهدایة في شرح بدایة: جـ۳ صـ ۱۰۱. و الاختیار لتعلیل المختار: جـ۲ صـ ۸۸. و معین الحکام: صـ ۷.

٤ - [سورة النساء: الایه ۱۳۵].

۵- «اقامة العدل مواظبین علی القیام به، فالواجب علی القاضي التسویة بین الخصمین فی الجلوس والإقبال» التفسیر المظهري: جـ ۲ صـ ۲۵۹.

٦- حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ مِرْدَاسٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ عَيَّاشٍ، عَنْ عَبَّادِ بْنِ كَثِيرٍ، عَنْ أَبِي عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا ابْتُلِيَ أَحَدُكُمْ بِالْقَضَاءِ بَيْنَ الْمُسْلِمِينَ فَلَا يَقْضِ وَهُوَ غَضْبَانُ، فَلْيُسَوِّ بَيْنَهُمْ بِالنَّظَرِ وَالْمَجْلِسِ وَالْإِشَارَةِ، وَلَا يَرْفَعْ صَوْتَهُ عَلَى أَحَدِ الْخَصْمَيْنِ» مسند أبي یعلی الموصلي جـ ۱۰ صـ ۲٦٤.

۷ -«أَمَّا كَوْنُهُ فَرْضًا فَلِقَوْلِهِ تَعَالَى: {كُونُوا قَوَّامِينَ بِالْقِسْطِ} ... وَأَمَّا كَوْنُهُ عَلَى الْكِفَايَةِ فَلِأَنَّهُ أَمْرٌ بِمَعْرُوفٍ أَوْ نَهْيٌ عَنْ مُنْكَرٍ، وَهُمَا عَلَى الْكِفَايَةِ» مغني المحتاج إلی معرفة معاني ألفاظ المنهاج جـ٦ صـ ۲۵۸.

## د شاهدانو د تزکیې د طرزالعمل کتاب




## د سترې محکمې د کلتوري مرکزونو د طرزالعمل کتاب



بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله رب العلمين والصلوة والسلام على سيدالمرسلين وعلى آله و أصحابه أجمعين[۱]

## د شاهدانو د تزکيې د طرزالعمل کتاب

د شاهدانو د تزکيې د طرزالعمل کتاب پر يوه مقدمه، يو باب، دريو فصلونو او اوولس مادو مشتمل دی .

### مقدمه

مقدمه له اصولو او قوانينو څخه مراد، اصطلاحگانې، لنډ نوم، د تطبيق ساحه او د تطبيق مرجع پر مادو مشتمله ده.

**له اصولو او قوانينو څخه مراد**

**لومړۍ ماده:**

په دغه طرزالعمل کې له اصولو او قوانينو څخه مراد، هغه اصول او قوانين دي، چې د عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ القرآن والحديث مولوي هبة الله اخندزاده حفظه الله تعالى له خوا تدوين يا تأييد شوي وي.[۲]

**اصطلاحگانې**

**دويمه ماده:**

په دې طرزالعمل کې راتلونکې اصطلاحگانې لاندې معناگانې افاده کوي:[۳]

## کتاب طرزالعمل تزکيه ای شاهدان

کتاب طرزالعمل تزکيه‌ای شاهدان بر يک مقدمه، يک باب، سه فصل و هفده ماده مشتمل است.

### مقدمه

مقدمه مشتمل بر ماده های مراد از اصول و قوانين، اصطلاحات، نام اختصاری، ساحۀ تطبيق و مرجع تطبيق می‌باشد.

**مراد از اصول و قوانين**

**مادۀ اول:**

مراد از اصول و قوانين در اين طرزالعمل اصول و قوانينی است که از جانب عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ القرآن والحديث مولوی هبة الله آخندزاده حفظه الله تعالى تدوين يا تأييد گرديده باشد.[۲]

**اصطلاحات**

**مادۀ دوم:**

اصطلاحات آتی در اين طرزالعمل معانی ذيل را افاده می‌نمايد:[۳]

---

۱ • (بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ) ش: ابتدأ الكتاب بالبسملة أولا، ثم ثنى بالحمدلة اقتداء بالكتاب العزيز المستفتح هكذا، وعملا بقوله عليه الصلاة والسلام: «كل أمر ذي بال لا يبدأ فيه بذكر الله وبسم الله الرحمن الرحيم فهو أقطع.» رواه الحافظ عبد القادر الرهاوي في أربعينه: وفي رواية أبي داود والنسائي: «كل كلام لا يبدأ فيه بالحمد لله فهو أجذم» وفي رواية ابن ماجه: «كل أمر ذي بال لم يبدأ فيه بالحمد لله فهو أقطع» ورواه أبو عوانة وابن حبان في صحيحيهما.(البناية شرح الهداية ج۱ص۱۳،الناشر:مكتبة التجارية)

• ذكروأن من الواجب على مصنف كتاب. اومؤلف رسالة ثلاثة أشياء: وهي البسملة. والحمدلة.والصلوة (عمدة القاري شرح صحيح البخاري ج۱ص۷۷:الناشر الرشيدية)

• بسم الله الرحمن الرحيم الحمد لله رب العالمين وصلى الله على سيدنا محمد وعلى آله وصحبه وسلم قد جمعنا بين البسملة والحمدلة لقوله عليه أفضل الصلاة وأتم السلام «كل أمر ذي بال لم يبدأ فيه ببسم الله فهو أبتر» وفي رواية «أجذم» وفي رواية «بالحمد لله» وختمنا بالصلاة على النبي صلى الله عليه وسلم تيمنا ولما ورد في ذلك (الفتاوى تنقيح الحامدية ج۱ص۳ الناشر مكتبة يوسفيه)

۲ • وقد ذكر الحموي في حاشية الأشباه أن عادة سلاطين زماننا إذا تولى أحدهم عرض عليه قانون من قبله وأمر باتباعه. (ردالمحتار ج۱ص۱۷۹ الناشر: جلالى كتب خانه ۱۲ جلده)

• وإن خالف قانون من قبله بل لو أمره بأمر مخالف لقانون من قبله فالظاهر نفوذه ولزوم اتباعه حيث وافق قانون الشرع القويم فهذا ما ظهر لفهمي السقيم وفوق كل ذي علم عليم. (تنقيح الفتاوى الحامدية ج۲ ص٦ الناشر: مكتبة يوسفيه)

۳ • لكل قوم من العلماء اصطلاحات مخصوصة يستعملونها في معان مخصوصة إما لأنهم نقلوها بحسب عرفهم إلى تلك المعاني أو لأنهم استعملوها فيها على سبيل التجوز ثم صار المجاز شائعا والحقيقة مغلوبة ولفظ أخبرني وحدثني ها هنا كذلك لأن هذا. (المحصول للرازي ج٤ص٤٥٢ الناشر:مؤسسة الرسالة)

• لا مشاحة في الاصطلاح بل تخطئة المرء في اصطلاحه بعيدة عن الصواب: مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج۱ص۱۳ الناشردارالفكر، بيروت، لبنان)

**۱- تزکيه:** محکمې ته د شاهدانو عدالت ظاهرول دی.[۱]
**۲- جرح:** د شاهد د فسق ښکاره کول دي.[۲]
**۳- مستوره:** هغه ورقه ده، چې د قاضي له لوری د امين په لاس پټه مزکي ته استول کېږي.[۳]
**٤- سري تزکيه:** په خفيه طريقه د مستورې په ذريعه د شاهدانو تزکيه کول دي.[٤]
**٥- علني تزکيه:** په علني ډول د شاهدانو تزکيه کول دی.[٥][(٨)]
**٦- جر د مغنم:** هغه څه دی چې په ذريعه يې شاهد ځان ته ظاهري يا معنوي گټه جلبوي.[٦]

۱- **تزکيه:** ظاهر ساختن عدالت شاهدان به محکمه است.[۱]
**۲- جرح شاهد:** آشکار کردن فسق شاهد است.[۲]
**۳- مستوره:** ورقی است که از جانب قاضی به دست امين پنهانی به مزکی فرستاده می‌شود.[۳]
**۴- تزکيه سری:** تزکيه‌ای شاهدان به روش مخفی ذريعهٔ مستوره است.[۴]
**۵- تزکيه علنی:** تزکيه‌ای شاهدان به گونه‌ای علنی است.[۵]
۶-**جرِ مغنم:** آنست که شاهد ذريعه‌ای آن برای خود مفاد ظاهری يا معنوی جلب نمايد.[۶]

---

• الْعُرْفُ الْخَاصُّ تَعْرِيفُهُ: هُوَ اصْطِلَاحُ طَائِفَةٍ مَخْصُوصَةٍ عَلَى شَيْءٍ كَاسْتِعْمَالِ عُلَمَاءِ النَّحْوِ « لَفْظَةَ الرَّفْعِ « وَعُلَمَاءِ الْأَدَبِ كَلِمَةَ « النَّقْدِ. (درر الحكام في شرح مجلة الأحكام ج۱ ص٤۱). ط: حنفيه)

• الاصطلاح: لغة الاتفاق، واصطلاحا: هو إخراج طائفة من الناس معينة لفظا من الألفاظ عن معناه اللغوي ووضعه لمعنى آخر وتخصيصه به. وذلك كوضع الفقهاء كلمة (الإيجاب) للمعنى الوارد في المادة (۱۰۱) وكلمة البيع للمعنى الوارد في المادة (۱۰٥) وكلمة الإجارة للمعنى الوارد في المادة (٤۰٥) (درر الحكام في شرح مجلة الأحكام ج۱ص٩٤، الناشر:مكتبه حنفيه الكتاب الاول البيوع)

۱ • التزكية: هي تعديل الشهود يعني قول المزكيِّ: (هو عدلٌ التعريفات الفقهية ص٥٦: ومثله في قواعد الفقه: ص۲۲۷:الناشر نعمانيه)

۲ • جَرْحَ الشُّهُودِ: الْجَرْحُ عِبَارَةٌ عَنْ إظْهَارِ الشَّيْءِ الَّذِي يَخِلُّ عَدَالَةَ الشَّاهِدِ وَيُظْهِرُ فِسْقَهُ. (درر الحكام في شرح مجلة الأحكام ج٤ ص٤١٣ الناشرمكتبه حنفية )

• مطلب في تعريف الجرح لغة واصطلاحا: وفي الاصطلاح اظهار فسق الشاهد: فتاوي جواهر الروايات ص٩:الناشرنوری کتب خانه وَفِي الِاصْطِلَاحِ إظْهَارُ فِسْقِ الشَّاهِدِ. (البحرالرائق ج٧ص١٦٦ الناشرامير حمزه)

۳ • «المستورة» اسم الرقعة التي يكتبها القاضي، ويبعثها سراً بيد أمينه إلى المزكي، سُميت بهذا لأنَّها تُسترُ عن نظر [العوام] (النهاية في شرح الهداية السغناقي ج١٦ ص٢٧ بترقيم الشاملة آليا)

• قال: ثم التزكية في السر أن يبعث المستورة إلى المعدل فيها النسب والحلي والمصلى ويردها المعدل، وكل ذلك في السر كيلا يظهر فيخدع أو يقصد. (البناية شرح الهدايةج٩ ص١١٦ الناشردارالفكر،بيروت،لبنان)

٤ • الْمَادَّةُ (١٧١٨) التَّزْكِيَةُ السِّرِّيَّةُ تُجْرَى بِوَرَقَةٍ يُعَبَّرُ عَنْهَا بِالْمَسْتُورَةِ فِي اصْطِلَاحِ الْفُقَهَاءِ وَالْقَاضِي يَكْتُبُ فِي تِلْكَ الْوَرَقَةِ اسْمَ الْمُدَّعِي وَالْمُدَّعَى عَلَيْهِ وَالْمُدَّعَى بِهِ وَاسْمَ الشُّهُودِ وَشُهْرَتَهُمْ وَصَنْعَتَهُمْ وَأَشْكَالَهُمْ وَمَحَلَّهُمْ وَأَسْمَاءَ آبَائِهِمْ وَأَجْدَادِهِمْ، وَإِذَا كَانُوا مَعْرُوفِينَ يُحَرِّرُ أَسْمَاءَهُمْ وَشُهْرَتَهُمْ فَقَطْ، وَالْحَاصِلُ أَنْ يُعَرِّفَهُمْ وَيُبَيِّنَهُمْ بِوَجْهٍ يُمَيَّزُونَ بِهِ عَنْ غَيْرِهِمْ وَبَعْدَ وَضْعِهَا فِي غِلَافٍ وَخَتْمِهِ يُرْسِلُهَا إلَى الْمُنْتَخَبِينَ لِلتَّزْكِيَةِ ثُمَّ عِنْدَ وُصُولِ الْمَسْتُورَةِ إلَى الْمُزَكِّينَ يَفْتَحُونَهُ وَيَقْرَءُونَهَا فَإِنْ كَانَ الشُّهُودُ الْمُحَرَّرَةُ أَسْمَاؤُهُمْ فِيهَا عُدُولاً كَتَبُوا تَحْتَ اسْمِ كُلٍّ مِنْهُمْ عِبَارَةَ عُدُولٌ وَمَقْبُولُو الشَّهَادَةِ. وَإِنْ لَمْ يَكُونُوا عُدُولاً كَتَبُوا عِبَارَةَ لَيْسُوا بِعُدُولٍ وَوَقَّعُوا إمْضَاءَاتِهِمْ وَخَتَمُوا فَوْقَ الْغِلَافِ وَأَعَادُوهَا لِلْقَاضِي بِدُونِ أَنْ يُطْلِعُوا مَنْ أَتَى بِالْمَسْتُورَةِ وَلَا غَيْرَهُ عَلَى مَضْمُونِهَا. (درر الحكام في شرح مجلة الأحكام ج٤ ص٤٠٧ الناشرمكتبة حنفية)

٥ • الْمَادَّةُ (١٧٢٠) التَّزْكِيَةُ عَلَنًا تُجْرَى عَلَى الْوَجْهِ الْآتِي: وَهُوَ أَنَّهُ يُجْلَبُ الْمُزَكُّونَ إلَى حُضُورِ الْقَاضِي حَالَ حُضُورِ الْمُتَرَافِعِينَ وَتُزَكَّى الشُّهُودُ أَوْ يُرْسَلُ الشُّهُودُ وَالْمُتَرَافِعَانِ مَعَ نَائِبِ التَّزْكِيَةِ إلَى مَحَلِّ الْمُزَكِّينَ وَتُزَكَّى الشُّهُودُ عَلَنًا. (درر الحكام في شرح مجلة الأحكام ج٤ ص٤١٠: الناشرمكتبة حنفية)

٦ • أحدهما: أن الشهادة إذا تضمّنت جَرّ مغنمٍ إلى الشاهد، أو دفع مغرمٍ عنه، لا تقبل لمكان التهمة (شرح الزيادات قاضي خان ج٤ ص١٢٨٢ الناشردارالفكر،بيروت، لبنان)

**۷- دفع د مغرم:** هغه څه دی چې په ذریعه یې شاهد له ځان څخه ضرر دفع کوي.[۱]

**۸- ملزموونکي شاهدان:** هغه دي چې د صحیح شاهدي په ذریعه یې مشهود علیه د محکمې لخوا ملزم ګرځول کېږي.[۲]

**لنډ نوم**

**دریمه ماده:**

د شاهدانو تزکیه له دې وروسته په دې طرزالعمل کې د تزکیې په نوم یادېږي.[۳]

**د تطبیق ساحه**

**څلورمه ماده:**

د دغه طرزالعمل حکمونه د محکمو د فعالیت په ساحه کې د تطبیق وړ دي.[٤]

**۷- دفع مغرم:** آنست که شاهد ذریعه‌ای آن ضرر را از خود دفع نماید.[۱]

**۸- شاهدان ملزم کننده:** آنست که ذریعه‌ای شهادت صحیح مشهود علیه از جانب محکمه ملزم گردانیده می‌شود.[۲]

**نام اختصاری**

**مادهٔ سوم:**

تزکیه شاهدان بعد از این در این طرزالعمل به نام تزکیه یاد می گردد.[۳]

**ساحهٔ تطبیق**

**مادهٔ چهارم:**

احکام این طرزالعمل در ساحهٔ فعالیت محاکم قابل تطبیق می‌باشد.[۴]

---

• الْمَادَّةُ (١٧٠٠) يُشْتَرَطُ أَلَّا يَكُونَ فِي الشَّهَادَةِ دَفْعُ مَغْرَمٍ أَوْ جَرُّ مَغْنَمٍ يَعْنِي أَلَّا يَكُونَ دَاعِيَةٌ لِدَفْعِ الْمَضَرَّةِ وَجَلْبِ الْمَنْفَعَةِ بِنَاءً عَلَيْهِ لَا تُقْبَلُ شَهَادَةُ الْأَصْلِ لِلْفَرْعِ وَالْفَرْعِ لِلْأَصْلِ يَعْنِي لَا تُقْبَلُ شَهَادَةُ الْآبَاءِ وَالْأَجْدَادِ وَالْأُمَّهَاتِ وَالْجَدَّاتِ لِأَوْلَادِهِمْ وَأَحْفَادِهِمْ وَبِالْعَكْسِ أَعْنِي شَهَادَةَ الْأَوْلَادِ وَالْأَحْفَادِ لِلْآبَاءِ وَالْأَجْدَادِ وَالْأُمَّهَاتِ وَالْجَدَّاتِ وَهَكَذَا شَهَادَةُ أَحَدِ الزَّوْجَيْنِ لِلْآخَرِ وَأَمَّا الْأَقْرِبَاءُ الَّذِينَ هُمْ مَا عَدَا هَؤُلَاءِ فَتُقْبَلُ شَهَادَةُ أَحَدِهِمْ لِلْآخَرِ، وَكَذَلِكَ لَا تُقْبَلُ شَهَادَةُ التَّابِعِ الَّذِي يَتَعَيَّشُ بِنَفَقَةِ مَتْبُوعِهِ، وَالْأَجِيرُ الْخَاصُّ لِمُسْتَأْجِرِهِ وَأَمَّا الْخَدَمَةُ الَّذِينَ يَخْدُمُونَ مَوْلًى فَتُقْبَلُ شَهَادَةُ أَحَدِهِمْ لِلْآخَرِ، وَكَذَلِكَ لَا تُقْبَلُ شَهَادَةُ الشُّرَكَاءِ لِبَعْضِهِمْ فِي مَالِ الشَّرِكَةِ وَلَا تُقْبَلُ شَهَادَةُ الْكَفِيلِ بِالْمَالِ لِلْأَصِيلِ عَلَى كَوْنِ الْمَكْفُولِ بِهِ قَدْ تَأَدَّى وَلَكِنْ تُقْبَلُ شَهَادَةُ أَحَدِهِمْ لِلْآخَرِ فِي سَائِرِ الْخُصُوصَاتِ. (درر الحكام في شرح مجلة الأحكام ج٤ ص٣٥٦ الناشرمكتبة حنفية)

١ • وان لايجر الشاهد الى نفسه مغنما ولا يدفع عنها مغرما: (الفتاوي جواهر الروايات، ص١٩الناشر نوري كتب خانه)

• لما فى الخانية ومن التهمة المانعة عن الشهادة أن يجر الشاهد بشهادته الى نفسه مغنما أو يدفع عن نفسه مغرما. (محمد خالدالأتاسى ج ٥ ص٢٣٤ الناشر مكتبة حنفية)

٢ • إنْ أَثْبَتَ الْمُدَّعِي دَعْوَاهُ بِالْبَيِّنَةِ أَيْ إذَا شَهِدَ الشُّهُودُ وَجَرَتْ تَزْكِيَتُهُمْ سِرًّا وَعَلَنًا فَظَهَرَ أَنَّهُمْ عُدُولٌ وَمَقْبُولُو الشَّهَادَةِ حَكَمَ الْقَاضِي بِذَلِكَ أُنْظُرْ الْمَادَّةَ (١٧١٦) لِأَنَّ هَذَا الْمُدَّعِيَ قَدْ نَوَّرَ دَعْوَاهُ وَدَعَّمَهَا بِالْبَيِّنَةِ. (دررالحكام ج٤ص٥٨٦ المادة ١٨١٨ الناشر مكتبة حنفية)

٣ • الْعُرْفُ الْخَاصُّ تَعْرِيفُهُ: هُوَ اصْطِلَاحُ طَائِفَةٍ مَخْصُوصَةٍ عَلَى شَيْءٍ كَاسْتِعْمَالِ عُلَمَاءِ النَّحْوِ « لَفْظَةَ الرَّفْعِ « وَعُلَمَاءِ الْأَدَبِ كَلِمَةَ « النَّقْدِ. (درر الحكام في شرح مجلة الأحكام ج١ ص٤١ ط: حنفيه)

• الاصطلاح: لغة الاتفاق، واصطلاحا: هو إخراج طائفة من الناس معينة لفظا من الألفاظ عن معناه اللغوي ووضعه لمعنى آخر وتخصيصه به، وذلك كوضع الفقهاء كلمة (الإيجاب) للمعنى الوارد في المادة (١٠١) وكلمة البيع للمعنى الوارد في المادة (١٠٥) وكلمة الإجارة للمعنى الوارد في المادة (٤٠٥) (درر الحكام في شرح مجلة الأحكام ج١ص٩٤، الناشر:مكتبه حنفيه الكتاب الاول البيوع)

٤ • أصل الحكم وادارة الشؤون أن يكون للسلطان لأنه صاحب الامامة الكبرى وجميع من يعمل للعموم يكون وكيلا عنه، لكن الوكالة قد تكون بلاواسطة كأن يقول السلطان لزيد وكلتك بالحكم بين الناس،و لاخر بجباية الأموال وحفظها، ولاخر بحفظ الثغور، ولاخربادارة الأمور السياسية، ولأخربعقاب المجرمين. (الاتاسى ج٦ص٤٦ الناشر: مكتبه حنفيه)

• لما كَانَ الْملك لَا يَسْتَطِيع إِقَامَة هَذِه الْمصَالح كلهَا بِنَفسِهِ وَجب أَن يكون لَهُ بِإِزَاءِ كل حَاجَة أعوان، وَمن شَرط الأعوان الْأَمَانَة وَالْقُدْرَة على إِقَامَة مَا أمروا بِهِ وانقيادهم للْملك والنصح لَهُ ظَاهرا أَو بَاطِنا. (حجة الله البالغة ج١ص ٩٥ باب سياسة الأعوان، ط أمير محمدكتب خانه كراتشى)

**د تطبیق مرجع**

**پنځمه ماده:**

د سترې محکمې عالي مقام د دغه طرزالعمل د حکمونو د تطبیق مرجع دی.[۱]

## باب
## د تزکیې اړوند حکمونه

دا باب په لاندې درېیو فصلونو مشتمل دی:

**۱- لومړی فصل:** د تزکیې ډولونه او هغوی ته اړتیا.

**۲- دویم فصل:** د تزکیې د جواز، د تزکیې او مزکي اړوند شرطونه.

**۳- درېیم فصل:** د تزکیې د اجراء ډول.

## لومړی فصل
## د تزکیې ډولونه او هغوی ته اړتیا

**تزکیې ډولونه**

**شپږمه ماده:**

تزکیه لاندې دوه ډولونه لري:

۱- سري تزکیه.[۲]

۲- علني تزکیه.[۳]

**تزکیې ته اړتیا**

**اوومه ماده:**

(۱) هغه وخت تزکیې ته اړتیا پیدا کېږي، چې د قاضي د حکم سبب د شاهدانو شهادت گرځول شوی وي.[۴]

(۲) په شهادت علی الشهادت کې د اصلي او فرعي دواړو شاهدانو سري او علني تزکیه اړینه ده.[۵]

